


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، تولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



صيام الدين « پسرلی »
د نشر نيټه : ۲۰ دسمبر ۲۰۱۲ ميلادی

# ۳۰ تنه ځوان ژورناليستان وروزل شول





ننګرهار ميديوتيک په تيرو شپږو مياشتو کې د ژورناليزم په ډګر کې ۳۰ ځوانانان تر روزنې وروسته تولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړل.
دغو ځوانانو ته د استاد عبدالبصير سباوون لخوا د ژورناليزم په اړه هراړخيز معلومات ورکړل شوي، چې تر دې وروسته کولی شي په رسنيو کې فعاليت وکړي.
د ژورناليزم دغه پروګرام ته شپږ مياشتې وړاندې له شاوخوا ۲۵۰ تنو څخو ازموينه اخيستل شوې وه چې له منځه يې ۳۰ تنو پياوړو ځوانانو روزنيز پروګرام ته لار وموندله. يادو زده کوونکو په تيرو روزنيزو مياشتو کې لاندې موضوعات زده کړي دي:

لومړی مباحث:

ژورنالیزم څه ته وایي؟
ژورنالیزم کومې موخې لري؟
په ټولنه کي د ژورنالیزم اغیز او اړتیا
ولې وګړي ژورنالیزم ته مخه کوي ؟
د ژورنالیزم اخلاق او ارزښت یي
د ژورنالیزم مهم اخلاقي اړونه

دویمه مباحث:

د ژورنالیزم داخلاقود پلي کولو ګټې
د خبریال دندي او مسؤلیتونه
د خبریال ځانګړني
د ژورنالیزم په اړه مهمې لارښوونې
مطبوعاتي جرایم

دریمه مباحث:

د رسنیو د قانون ځینې مادې
د رسنیو ډولونه
د ژورنالیزم او ادبیاتو توپیر
نړیوال ژورنالیستیك نورمونه
خبري سرچینې
نوټ اخیستل

څلورمه مباحث:

راډیوي ژبه
بي پریوالی
د ژورنالستیکي سوژو د موندنو لارې چارې
انځوریزه لیکنه
عملي کار
سرلیکنه څنګه ولیکو؟
عملي کار
تبصره
عملي کار

پینځمه مباحث:

پکیج
عملي کار
کالم لیکنه
عملي کار
انلاین ژورنالیزم

مرکه پیژندنه
دمرکي ارزښت
مرکي مراحل
مرکي ډولونه
عملي کار
د پوښتنو ډولونه
پوښتنو تخینکونه
عملي کار

شپږمه میاشت:

خبر پیژندنه
د خبر جوړښت
عملي کار
غوره خبرلیکني لپاره د رویترسپارښتني
دخبر ډولونه
په خبر کي دسرچیني اهمیت
په ټولیزو رسنیو کي دخبر لیکني توپیرون
عملي کار
فیچرپیژندنه
فیچرډولونه
د فیچر جوړښت
عملي کار

د یادوني وړده، چي ننګرهار ټولنیز مرکز (میدیوتیک) د تیرو لسو کلونو راهیسي لسګونو ځوانان د ژورنالیزم په ډګر کي روزلي، چي اوس یي ډېری په چاپي، غږیزو، تصویري او برېښنايي نړیوالو او سیمه ییزو رسنیو کي په دندو بوخت دي.
د یادو روزل شویو ژورنالېستانو فعالیتونه د هیواد له اسلامي او ملي ارزښتونو سره همغاړي او د ټولنیزې همغږۍ مرستندوی دي.

ننګرهار رسنیز کور
















بازگشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org

هره لیکنه د لیکوال خپل نظر دی او خپله دلیکوال اند څرګندوی
استفاده از مطالب سایت « ارگان نشراتی صلح و تفاهم سعید افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است